هفته واره رساله



# د اولیاء کرامو شان په ژبه د قرآن



حضرت لقمان حکیم رحمۃ اللہ علیہ

د پخوانی زمانې 3 اولیاء

حضرت زُلیخا رحمۃ اللہ علیہا

په قرآن کریم کښې د اولیاء کرامو ذکرِ خیر

# وړومبے دا ولولئ

الله يو دے د هغۀ هيڅ شريک نشته او د هغۀ نه علاوه څوک هم د عبادت لائق نشته- الله پاک د انسانانو د هدايت او رهنمايئ د پاره خاص بندګان (يعنې رسولان او نبيان عَلَيۡهِمُ السَّلَام) منتخب کړل- کله چې زمونږ پۀ خوږ اخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د نبوت سلسله ختمه شوه نو صحابۀ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان پۀ ټوله دُنيا کښې د دِينِ اِسلام پيغام عام کړو، بيا تابعينو، تبعِ تابعينو، اوليائے کرامو (رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم) دا عظيم کار وړاندې بوتللو، هم دغه وجه ده چې د اکثرو بزرګانو رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم مزارونه مبارک د هغوئي د ولادت (يعنې د پيدا کيدو د ځائے) نه پۀ ډيرو لرې علاقو او ملکونو کښې دي، دې اولياء الله د دُنيا ګوټ ګوټ ته د اِسلام د سر لوړي د پاره هجرت وکړو او خپل ژوند يـې د الله پاک پۀ لاره کښې تير کړو- الله پاک مونږ ته هم د دې بزرګانِ دِين، اوليائے کامِلين رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم پۀ وجه د اِسلام نعمت پۀ خپل ملک کښې پۀ اسانئ سره راعطا کړو ګني نو چې کومو ملکونو ته اوليائے کرامو رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم پۀ ظاهري توګه تشريف نۀ دے وړے هلته نن هم د اِسلام او د مسلمانانو حالت بل شان ليدلے کيږي- مونږ د الله پاک پۀ کروړونو کرته شُکر ادا کوو چې هغۀ مونږ د خپل خوږ اخري او خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ اُمت کښې پيدا کړو او بيا يـې راته د اهلِ بيتِ اَطهار او د صحابۀ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان د عقيدت او محبت لازوال دولت راعطا کړو او د دې پاکو هستيانو پۀ نقشِ قدم باندې د تلونکو نيکانو بندګانو يعنې بزرګانِ دِين او اوليائے کامِلين رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم نسبت يـې هم راعطا کړو-

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! پۀ مونږ اهلسُنَّت باندې د الله پاک دا ډير لوئي کرم دے- الله پاک دې مونږ هم پۀ خپلو مقبولو بندګانو کښې شامل کړي او مونږ ته دې پۀ قيامت

کښې پۀ خیر سره د دوئي رفاقت او پۀ جنتُ الفردوس کښې د خپل خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاؤنډ راعطا کړي-

**اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ!** دا رساله پۀ قرآنِ کریم کښې د اولیائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم پۀ بیان شوو واقعاتو باندې مشتمله ده- الله پاک پۀ خپل مبارک کتاب کښې چې په کوم کوم ځائے د خپلو نیکانو بندګانو یعنې اولیائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم ذِکر فرمائیلے دے پۀ هغې کښې یو څو ځایونه خاص پۀ ښکاره توګه بیانولے کیږي چې پۀ دې ځان پوهه کړے شي چې د اولیائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم وجودِ مسعود د خلقو د پاره نعمت وي او پۀ دې کښې زمونږ د پاره د عزت او د تعظیم درس موجود دے چې د دوئي پۀ بارګاه کښې حاضري کول د دارینو د سعادت ذریعه جوړیدے شي- الله پاک دې همیشه مونږ د دوئي فرمانبردار لري- اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د دې رسالې نه پس به د قرآنِ کریم نه د اولیائے کرامو د کراماتو ثبوت او بیا د حدیثونو مبارکو پۀ رڼا کښې ذِکر او د کراماتو تذکره وړاندې کولے شي- الله پاک دې زمونږه د اِخلاص دولت نصیب کړي او د خپلو اولیائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم پۀ فیضان مو دې مالا مال کړي-

**اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

والسلام مَعَ الاِکرام
طالبِ غمِ مدینه وبقیع و بے حساب مغفرت
ابو محمد طاهر عطاري مَدَني عُفِيَ عَنه
5 رابیع الآخر کال 1447، 28 ستمبر 2025

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

# د اولیاؤ شان پۀ ژبه د قُرآن

دُعائے عطّار: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله " د اولیاؤ شان پۀ ژبه د قرآن " ولولي یا واوري د هغۀ د اولیائے کرامو پۀ لاره تلل نصیب کړې او هغه پۀ خپلو مقبولو بندګانو کښې شامل کړې او هغه سره د مور او پلاره بے حسابه جنَّتُ الفردوس ته داخِل کړې- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## د اعلیٰ درجو د موندلو ذریعه (د دُرُود شریف فضیلت)

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی جَعَلَ لِاُمَّتِیْ فِی الصَّلَاةِ عَلَیَّ اَفْضَلَ الدَّرَجَاتِ یعنې **" بے شکه الله پاک زما د اُمت د پاره پۀ ما باندې د دُرُودِ پاک لوستلو پۀ بدله کښې اعلیٰ درجې ایښودې دي-**

(کشف الغمه، 326/1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

## د مخکښینۍ زمانې درې اولیائے کرام

" اَنطاکیه" د شام یو بهترین ښار وو- ټول ښار د 5 غرونو پۀ مینځ کښې وو- د ښار د ابادۍ رقبه تر 12 میلونو پورې خوره وه، حضرت عیسیٰ روحُ الله عَلَیْهِ السَّلَام خپل دوه مبلغین چې د یو نوم " صادِق" او د بل نوم " مَصدوق" وو دا دواړه د دِین پیغام رسولو د پاره هُغه ښار ته ولیږل- کله چې دا دواړه بزرګان هُغه ښار ته ورسیدل نو د دوئي ملاقات د یو بوډا شپونکي سره وشو د کوم نوم چې " حبیب نجَّار" وو-

حبیب نجَّار ترینه پوښتنه وکړه چې تاسو څوک یئ او د چرته نه راغلي یئ؟ ستاسو دلته د راتللو څهٔ مقصد دے؟ دې دواړو صاحبانو اِرشاد وفرمائیلو چې مونږ د حضرت عیسیٰ روحُ الله عَلَیۡہِ السَّلَام مبلغین یو او دې کلي والؤ ته د یو خُدائے د عبادت د دعوت ورکولو د پاره راغلي یو۔ حبیب نجار عرض وکړو: آیا ستاسو سره د دې څهٔ نخښه شته؟ نو دې دواړو وفرمائیل: آؤ جي! مونږ مریضانو، پیدائشي ړندو او د برګي (یعنې د سپینو داغونو والؤ) ته د الله پاک په حکم سره شِفا ورکوو۔ حبیب نجار چې دا واوریدل نو اوئې وئیل: زما یو ځوي د 2 کالو راسې بیمار دے۔ آیا تاسو به هغهٔ له صحت ورکړئ؟ هغوئي وفرمائیل: آو جي! هغه زمونږ خوا له راولئ۔ دې دواړو په مریض هلک باندې لاس راښکلو نو د هغهٔ فوراً شِفا نصیب شوه۔ په ټول ښار کښې دا خبر د بجلۍ په شان تیز خور شو، ډیر مریضان راجمع شول او د ټولو شِفا هم نصیب شوه۔

د دې ښار د بادشاه نوم ”انطیخا“ وو کوم چې غیر مسلمه وو، هغهٔ چې د دې دواړو اولیائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم د نیکۍ د دعوت نه خبر شو نو د ډیرې غصې نه یې مخ تک سور شو۔ هغه دواړه بزرګان ونیول او اوئې وهل او په جیل کښې یې قید کړل، حضرت عیسیٰ روحُ الله عَلَیۡہِ السَّلَام د خپلو حواریانو (یعنې ملګرو) مشر حضرت شمعون رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په دوئي پسې انطاکیه ته ولیږلو۔ حضرت شمعون رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په څهٔ طریقه د بادشاه خوا له ورسیدو او بادشاه ته یې وفرمائیل: کوم دوه کسان چې قید کړے شوي دي آیا د هغوئي خبره اوریدے شوې وه چې هغوئي څهٔ وئیلي وو؟ بادشاه ووئیل: نه، کله چې هغوئي د نوي دِین نوم واخستو نو ما له فوراً غصه راغله۔ هغوئي وفرمائیل: که د بادشاه اجازت وي نو هغوئي دې راوغوښتے شي د پاره د دې چې وکتلے شي چې د هغوئي سره څهٔ دي؟ کله چې هغوئي راغلل

نو حضرت شمعون رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د هغوئي نه پوښتنه وکړه: تاسو چا رالیږلي یئ؟ هغوئي جواب ورکړو: هُغه الله کوم چې هر څیز پیدا کړے او هر ساه لرونکي له رزق ورکوي او د چا چې هیڅوک شریک نشته- هغوئي وفرمائیل: د هغۀ مختصر صفت بیان کړئ! هغوئي ووئیل: ” هغه چې څۀ وغواړي کوي یې“ حضرت شمعون رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ وفرمائیل: ستاسو سره څۀ نخښه ده؟ هغوئي جواب ورکړو: څۀ چې بادشاه غواړي نو بادشاه یو داسې پیدائشي نابینا راوغوښتو د کوم پۀ سر کښې چې هډو سترګې نۀ وې، د حضرت عیسیٰ روحُ الله عَلَیۡهِالسَّلَام دې دواړو اولیائے کرامو رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہِم چې پرې خپل لاس مبارک راښکلو نو د هغۀ پۀ تندي کښې د سترګو دوه سوري جوړ شول بیا هغوئي د خاورو بالونه جوړ کړل او پۀ هُغه سورو کښې یې کیښودل او دُعا یې چې وکړه نو دا د خاورو دواړه بالونه روښانه شو او پیدائشي نابینا لیدل شروع کړل-

حضرت شمعون رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ وفرمائیل: اے بادشاه! تۀ د هغه چا عبادت ولې نۀ کوې څوک چې د داسې قُدرت والا دے چې ړندو ته سترګې عطا کوي- پۀ دې اوریدو بادشاه هُغه دواړو بزرګانو ته ووئیل: آیا ستاسو خُدائے مړي راژوندي کولے شي؟ که هغه مړي راژوندي کولے شي نو یو مړے دې راژوندے کړي کوم چې د یو زمیدار ځوي وو او اووۀ ورځې مخکښې مړ شوے دے، د هغۀ وجود خراب شوے دے او بد بوئي ترینه ځي، ما د هغه د پلار پۀ انتظار کښې هغه لا تر اوسه پورې نۀ دے دفن کړے- بادشاه دا درې واړه اولیائے کرام رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہِم د هلک د مړي خوا له بوتلل، دریو واړو بزرګانو دُعا وکړه نو د الله پاک پۀ حکم هُغه مړے راژوندے شو او پۀ تیز اواز یې ووئیل: زۀ غیر مسلمه ووم، زۀ د مرګ نه پس د دوزخ پۀ دَرو کښې داخل کړے شوم لهذا زۀ تاسو د الله پاک د عذاب نه

ويرووم او په الله باندې د ايمان راوړلو دعوت دركووم او تاسو ته نصيحت كووم چې د خُدائے د پيغمبر حضرت عيسىٰ روحُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام كلمه ووايئ او د دې دريو واړو مبلغينو خبره اومنئ او د خلقو سره ښۀ سلوک كوئ ځكه چې دا درې واړه صاحبان د حضرت عيسىٰ روحُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام حواريان او د هغوئي مبلغان دي، په دې منظر ليدو او د مړي په تقرير اوريدو ټول خلق حيران شول، په دې كښې حبيب نجّار (رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه) هم په منډه تشريف راوړلو او هغوئي هم د بادشاه او ټول ښار والؤ په مخكښې د مبلغانو د تصديق كولو د پاره زورور تقرير وكړو او تيار يـې كړل، تر دې پورې چې بادشاه او د هغۀ ټولو درباريانو ايمان قبول كړو خو يو څو بد نصيبو ايمان را نۀ وړو بلكې هغوئي مَعَاذَالله! حبيب نجار رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه شهيد كړو نو په دې بد بختو باندې د الله پاک عذاب راغلو۔

(تفسير صاوی، پ22، يٰسين، تحت الآية:13، 1710/5 1708/5)

د قرآنِ كريم په ډير مشهور سورت ”يٰسين شريف“ كښې دا واقعه څۀ داسې بيان كړے شوې ده:

وَ اضۡرِبۡ لَهُمۡ مَّثَلًا اَصۡحٰبَ الۡقَرۡیَةِ ۘ اِذۡ جَآءَهَا الۡمُرۡسَلُوۡنَ ﴿۱۳﴾ اِذۡ اَرۡسَلۡنَاۤ اِلَیۡهِمُ اثۡنَیۡنِ فَكَذَّبُوۡهُمَا فَعَزَّزۡنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوۡۤا اِنَّاۤ اِلَیۡكُمۡ مُّرۡسَلُوۡنَ ﴿۱۴﴾

(پ:22، سورۂ يس: 14،13)

ترجمۂ كنزُالعِرفان: او هغوئي ته د ښار والؤ مثال بيان كړه چې كله هغوئي لره رسولان راغلل۔ چې كله مونږه د هغوئي طرف ته دوه رسولان وليږل بيا هغوئي هغه دواړه دروغژن وګڼل نو مونږه د دريم په ذريعه مدد وكړو نو هغوئي ټولو ووئيل چې بے شكه مونږه ستاسو طرف ته راليږلے شوي يو۔

د یو څو آیتونو نه پس د حضرت حبیب نجار رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہ خبره پۀ قرآنِ کریم کښې څۀ داسې بیان کړے شوې ده:

وَ جَآءَ مِنۡ اَقۡصَا الۡمَدِیۡنَةِ رَجُلٌ یَّسۡعٰی قَالَ یٰقَوۡمِ اتَّبِعُوا الۡمُرۡسَلِیۡنَ ﴿۲۰﴾ اتَّبِعُوۡا مَنۡ لَّا یَسۡـَٔلُکُمۡ اَجۡرًا وَّ هُمۡ مُّهۡتَدُوۡنَ ﴿۲۱﴾

(پ:22، سورۂ یٰس: 20، 21)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د لرې غاړې نه یو سړے پۀ منډه راغلو، هغه ووئیل: اے زما قومه! د دې رسولانو تابعداري وکړئ- د داسې خلقو تابعداري وکړئ کوم چې تاسو نه هیڅ معاوضه نۀ غواړي او هغوئي هدایت یافته دي-

تقریباً 226 کاله مخکښې تیر شوي بزرګ حضرت احمد بن محمد مالکي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پۀ خپل تفسیر "خاشیةُ الصَّاوِي علي الجلالین" کښې او نورو مفسرینِ کرامو دا واقعه پۀ خپلو خپلو تفسیرونو کښې لیکلې ده:

د حضرت عیسیٰ روحُ الله عَلَیۡہِ السَّلَام درې مبلغین کوم چې د هغوئي د اُمت پۀ اولیائے کرامو رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم کښې وو- د هغوئي دا کرامت وو چې د الله پاک پۀ حکم او د هغۀ پۀ عطا کړے شوي طاقت به یې پیدائشي نابینا له سترګې، بیمارانو له صحت او شِفا ورکوله بلکې مړي به یې هم راژوندي کول- چې د حضرت عیسیٰ روحُ الله عَلَیۡہِ السَّلَام د اُمت اولیائے کرام رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم داسې تصرفات کولے شو نو د حضرت عیسیٰ روحُ الله عَلَیۡہِ السَّلَام هم آقا بلکې د ټولو نبیانو د سردار مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُمت کوم چې د مخکښني ټولو اُمتونو نه افضل او اعلیٰ دے، د دې د اولیائے کرامو شان او عظمت به څومره اوچت وي؟

زمونږ د خوږ او اخري نبي، مکي مَدَني مُحَمَّد عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه مخکښې چې څومره هم انبیائے کرامو عَلَیۡهِمُ السَّلَام دُنیا ته تشریف راوړے، د هغوئي

پهٔ اُمتونو کښې چې څومره هم اوليائے کرام وو د هُغه ټولو نه افضل زمونږ د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ برکت د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمت اوليائے کرام رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِم دي۔

## د پوهې خبره

د الله پاک پهٔ بارګاه کښې د هر مؤمِن مسلمان ډير لوئي عزت او شان دے، پهٔ قرآنِ کريم کښې د يو عام مؤمِن مسلمان پهٔ باره کښې پهٔ بد ګمانۍ کولو، پهٔ هغهٔ باندې د تور او بهتان لګولو، پهٔ هغهٔ پسې پهٔ ټوقو کولو، هغه پهٔ غلط نوم سره پهٔ يادولو ، هغه ته پهٔ تکليف رسولو او مَعَاذَالله! د هغهٔ پهٔ وژلو باندې سخت وعيدونه بيان کړے شوي دي۔ پهٔ حديثونو مبارکو کښې هم د يو مؤمِن مسلمان پهٔ عزت او حُرمت باندې ډير تاکيد راغلے دے۔ چې د يو عام مسلمان د عزت او حُرمت د الله پاک او د هغهٔ د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ بارګاه کښې دومره اهميت دے نو څوک چې عالِمِ دِين وي، د هغهٔ د تعظيم او اِحترام درجه به څومره زياته وي۔ د عالِمِ دِين پهٔ غير عالِم باندې د شان او عظمت د پاره دا يو آيت مبارک هم کافي دے۔ د 23 سيپارې پهٔ سورهٔ الزمر آيت نمبر 9 کښې ارشاد دے: ﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ ترجمهٔ کنزُالعِرفان: تهٔ وفرمايه: آيا علم والا او بے علمه برابر دي؟

چې عالِمِ دِين او غير عالِم برابر نهٔ دي نو د ولي الله درجه خو د دې نه هم اوچته ده ځکه چې د الله پاک د ولي کيدو د پاره عالِم کيدل شرط دے د "ولي" يوه معنىٰ دوست ده او الله پاک جاهل دوست نهٔ ساتي - الله پاک چې کله څوک خپل دوست (يعني ولي) جوړوي نو هغه وړومبے د خپل دِين د عِلم عالِم هم جوړوي۔

## با ادب بانصیب

اَلْحَمْدُلِلّٰہِ الکریم! د اللّٰہ پاک د نیکانو او برګزیده بندګانو (یعني اولیائے کرامو رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہِم) پۀ باره کښې د صدو نه د عامو مسلمانانو طرزِ عمل د ادب او تعظیم والا راروان دے، د اولیائے کرامو عاشقان د بزرګانِ دِین رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہِم پۀ ژوند مبارک کښې د هغوئي بارګاه ته حاضرېږي او فیض حاصلوي او د هغوئي د وفات شریف نه پس د هغوئي مزارونو مبارکو ته حاضرېږي او د قرآنِ کریم تلاوت کوي او د ایصالِ ثواب د پاره پۀ نورو نیکو کارونو کولو برکتونه حاصلوي۔

اللّٰہ پاک خپلو دې اولیائے کرامو ته پۀ دُنیا کښې او د دُنیا نه د پردې فرمائیلو نه پس ډېر لوئي شان عطا کوي، د خلقو پۀ زړونو کښې د هغوئي محبت او عقیدت اچوي چې د سوونو کلونو تیریدو نه پس هم د اللّٰہ پاک مخلوق د هغوئي مزارونو ته حاضرېږي او د هغوئي پۀ وسیله باندې د اللّٰہ پاک پۀ بارګاه کښې دُعاګانې کوي او اللّٰہ پاک د دې اولیائے کرامو پۀ برکت د هغوئي دعاګانې قبلوي۔ د اللّٰہ پاک پۀ کرم سره د هغه مقبول بنده ګان اولیائے کرام رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہِم پۀ دُنیا او پۀ اخرت کښې د هغۀ د عذاب او ناراضګۍ نه پۀ امان کښې وي۔ د یولسمې سیپارې، پۀ سورۀ یونس آیت نمبر 62 او 63 کښې ارشاد دے:

اَلَاۤ اِنَّ اَوْلِیَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَ لَا هُمْ یَحْزَنُوْنَۚۖ﴿۶۲﴾ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ كَانُوْا یَتَّقُوْنَؕ﴿۶۳﴾

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: واورئ! بے شکه د اللّٰہ پۀ اولیاؤ به نۀ څۀ ویره وي او نۀ به هغوئي غمژن کیږي۔ هغه خلق چې ایمان یې راوړو او تل به ویریدل۔

حضرت علاّمه احمد صاوي مالكي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې آيت مبارک پۀ تفسير کښې ليکلي دي چې د قيامت پۀ ورځ باندې به پۀ هغوئي باندې نۀ څۀ ويره وي او نۀ به پۀ هُغه ورځ باندې هغوئي غمژن وي ځکه چې الله پاک خپل اوليائے کرام پۀ دُنيا کښې د هُغه څيزونو نه محفوظ کړي دي کوم چې پۀ اخرت کښې د ويرې او غم سبب جوړيږي- (تفسير صاوی، پ11، يونس، تحت الآية:62، 3/880)

## د ولي مطلب څۀ دے؟

" ولي" د عربي ژبې لفظ دے د دې اصل " وِلاءٌ" دے د کوم معنیٰ چې نزدې او مدد ده- " وَلِيُّ الله" هغه وي خوک چې پۀ فرائضو سره د الله پاک نزدې والے حاصل کړي او د الله پاک پۀ فرمانبرداری کښې مصروف وي- غرض دا چې هغه هر کار د الله پاک د مرضی مطابق کوي، هغه د الله پاک پۀ ذِکر باندې نۀ ستړے کيږي- د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: وَلِيُّ الله هغه وي د چا پۀ ليدلو چې الله پاک راياد شي- (جامع صغير، ص168، حديث:2801)

## د الله پاک پۀ باره کښې صحيح عقيده

د الله پاک ولي جوړيدل د هغۀ پۀ بارګاه کښې مُقرَّب (يعني مقبول يا خوښ بنده) جوړيدل دي، الله پاک چې پۀ خپل کرم سره چا ته غواړي هغۀ ته دا (يعني د ولايت) عظيم الشان نعمت ور کوي، الله پاک بعضې حضرات هُم د ولي په صفت پيدا کوي چا ته چې " مادر زاد ولي (يعني پيدائشي ولي) " وئيلے شي- لکه څنګه چې حضرت بي بي مريم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها مادر زاد وَلِيَّه وه-

ياد ساتئ چې که يو ولي دې د هر څومره اوچتې مرتبې والا ولې نۀ وي د صحابي مرتبې ته نشي راسيدے- د اهلسُنَّت پۀ دې خبره باندې اتفاق دے چې يو ولي هم

د يو نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه افضل نشي کيدے- (الرسالة القشيريه، ص 380) دا د دِين د ضرورتونو نه دي- (ارشاد السارى، 378/1، تحت الحديث:122) هم داسې يو ولي، يو غوث، يو صديق هم د يو نبي نه افضل نشي کيدے، ځوک چې داسې وائي بالاتفاق پوخ کافِر او بے دِينه دے- (فتاوىٰ رضويه، 584/15)

## ولايت چا ته ميلاؤيږي؟

الله پاک چې ځوک هم ولي جوړوي پهٔ خپل فضل او کرم باندې يـې جوړوي يو بنده پهٔ ډيرو عبادتونو باندې دې مقام او مرتبې ته نشي رسيدے البته نيک اعمال د الله پاک د ولي کيدو ذريعه جوړيدے شي- پهٔ قرآنِ کريم کښې اِرشاد دے:

﴿ وَ الَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ؕ وَ اِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ۠ (۶۹) ﴾ (پ: 21، العنکبوت: 69)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او کومو خلقو چې زمونږه پهٔ لار کښې کوشش وکړو ضرور به مونږه هغوئي ته خپلې لارې وښايو، او بے شکه الله د نيکانو سره دے-

امامِ اهلِسُنَّت اعلیٰ حضرت، مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه اِرشاد فرمائيلے دے: " ولايت کسبي نهٔ دے (يعنې پهٔ کوشش کولو نشي حاصليدے) صرف عطائي (يعنې د الله پاک پهٔ عطا سره ميلاؤيږي)- آؤ! کوشش او مجاهده کوونکو ته خپله لار ه ښائي- (فتاوىٰ رضويه، 606/21) لکه څنګه چې پهٔ تير شوي آيت مبارک کښې بيان شو-

تُو اپنی ولایت کی خیرات دے دے ميرے غوث کا واسطہ یاالٰہی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ علىٰ مُحَمَّد

## آيا د اوليائے کرامو نه ګناه نشي کيدے؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د ګناهونو نه معصومتيا (يعنې هډو ګناهونه نهٔ کيدل) دا د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام او د فرښتو خاصيت دے- د الله پاک پهٔ

رحمت او د هغهٔ پهٔ فضل سره اولیائے کرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم د الله پاک پهٔ امان کښې وي اګرچه د هغوئي نه ګناهونه کیدے شي، دوئي د ګناهونو نه معصومه نهٔ وي، البته د الله پاک پهٔ رحمت سره دوئي د ګناهونو نه محفوظ وي- الله پاک د قرآنِ کریم پهٔ پینځلسمه سیپارهٔ، سورهٔ بني اسرائیل، آیت: 65 کښې اِرشاد فرمائي:

﴿ اِنَّ عِبَادِیۡ لَیۡسَ لَکَ عَلَیۡهِمۡ سُلۡطٰنٌ ؕ ﴾ ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه کوم چې زما بندګان دي پهٔ هغوئي تهٔ هیڅ قابو نهٔ لرې-

## پهٔ قرآنِ کریم کښې د اولیائے کرامو ذِکرِ خیر

الله پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې د مخکښینو اُمتونو د ډیرو اولیائے کرامو ذِکرِ خیر فرمائیلے دے لکه څنګه چې د حضرت عیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ زمانه کښې مشهور اولیائے کرام کومو ته چې " اَصحابِ کهف" وئیلے شي بلکې د هغوئي پهٔ یاد کښې د ټول سورت نوم "کهف" دے- کهف پهٔ عربیِ ژبه کښې "غار" ته وئیلے کیږي- پهٔ غار کښې تقریباً د 309 کالو پورې د اودهٔ شوو دې اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم د شمیرې پهٔ باره کښې مختلف اقوال دي خو د ټولو نه مضبوط قول د 7 کسانو دے- پهٔ پینځلسمه سیپاره کښې د موجود سورةُ الکهف د آیت نمبر 9 نه 26 پورې د اصحابِ کهف واقعه بیان کړے شوې ده-

پهٔ قرآنِ کریم کښې چې د کومو مخکښینو اُمتونو د اولیائے کرامو ذِکرِ خیر راغلے دے اوس به مونږ د هغوئي پهٔ نمبر نمبر ذِکرِ خیر کوو چې تاسو ته معلومه شي چې د اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم ذِکرِ خیر کول څهٔ نوې خبره نهٔ ده بلکې دا د قرآنِ کریم نه ثابت دي او الله پاک پهٔ خپل دې پاک کتاب کښې ځائے پهٔ ځائے د دې نیکانو هستو ذِکر فرمائیلے دے بلکې د دوئي پوره پوره واقعې یې بیان کړې دي او د دوئي پهٔ یاد باندې د پوره پوره سورتونو نومونه ایښودے شوې دي- حضرت

سفيان بن عيينه رَحۡمَةُ اللّٰـهِ عَلَيۡه فرمائي: د الله پاک د نيکانو بندګانو د ذِکر پۀ وخت رحمت نازليږي- (حلية الاولياء، 7/335، رقم:10750)

راځئ چې د الله پاک پۀ رحمت کښې د حصې موندلو د پاره د دې اوليائے کرامو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهم ذِکرِ خير وکړو-

## 309 کاله ارام فرمائيلو والا اوليائے کرام

الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې پۀ پينځلسمه سيپاره سورۃُ کهف، آيت نمبر 9 کښې د اصحابِ کهف ذِکر څۀ داسې فرمائي:

﴿اَمۡ حَسِبۡتَ اَنَّ اَصۡحٰبَ الۡكَهۡفِ وَ الرَّقِيۡمِ ۙ كَانُوۡا مِنۡ اٰيٰتِنَا عَجَبًا﴾

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: آيا تا ته معلومه شوه چې د غرۀ د غار او د ځنګل د غاړې والا،زمونږه يوه عجيبه نخښه وه-

تقريباً دوه نيم سوه کاله مخکښې تير شوے د قرآنِ کريم مفسر حضرت شيخ سليمان جمل رَحۡمَةُ اللّٰـهِ عَلَيۡه پۀ خپل تفسيرِ جمل کښې ليکلي دي: د اصحابِ کهف نومونه ډير د برکت والا دي او اکابر بزرګانِ دِين رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهم د دې ډيرې فائدې بيان کړې دي چې د دوئي نومونه مبارک وليکلے شي او پۀ دروازه باندې رازوړند کړے شي نو کور د سوزيدو نه محفوظ وي، چې پۀ مال باندې کيښودے شي نو نۀ غلا کيږي، کشتئ يا جاز د دې پۀ برکت نۀ غرقيږي، تښتيدلے ګس د دې پۀ برکت واپس راځي، که چرته وور لګيدلے وي او دا نومونه پۀ کپړه کښې راغونډ کړے شي او ور واچولے شي نو هغه به مړ شي، د ماشوم د ژړا، د تيزې تبې، سر درد، اُمُّ الصبيان (د خاص قِسمه دماغي جټکې او دورې) د وچې او لـمدې پۀ سفر کښې، د ځان او مال د حفاظت، د عقل د تيز والي او د قيديانو د ازادۍ د پاره دې

دا نومونه مبارک ولیکلے شي او د تعویذ پۀ شان دې پۀ مټ باندې وتړلے شي-
(تفسیر جمل، پ15، الکهف، تحت الآیة:22، 4/409)

د دې اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم پوره واقعه پۀ ترجمۀ کنز العرفان او تفسیرِ صراطُ الـجنان کښې ولولئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د اولیائے کرامو پۀ عقیدت او محبت باندې به مو ایمان تازه شي- د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د امتِ محمدي د ولي الله شان

چې د حضرت عیسیٰ روحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د زمانې د اولیائے کرامو دا شان دے نو د نبي آخرُ الزمان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمت د اولیائے کرامو شان او عظمت به څومره اوچت وي- که څوک د اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم عاشق د حضور غوثِ پاک شیخ عبدُ القادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مبارکو نومونو نه د برکت حاصلولو د پاره هغه یاد کړي یا د هغه نومونو نه تعویذ جوړ کړي نو د هغوئي به ولې برکتونه نۀ نصیب کیږي، د هغوئي مشکل کارونه به ولې نۀ اسانیږي-

## پۀ ټوله دُنیا باندې حکومت کوونکے وَلِيُّ الله

هُم پۀ سورة الکهف کښې الله پاک د یو بل ولي واقعه بیان کړې ده د کوم نوم مبارک چې " سکندر او لقب ذو القرنین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه " دے- سکندر اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حضرت حضر عَلَيْهِ السَّلَام د [مور د طرفه د] ترور ځوي دے، پۀ دُنیا کښې څلور لوئي بادشاهان تیر شوي دي، پۀ دې کښې دوه مؤمِنان وو، حضرت سلیمان عَلَيْهِ السَّلَام او حضرت ذو القرنین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او دوه کافران وو نمرود او

بُختِ نصر او پينځم بادشاه به حضرت اِمام مهدي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْه وي، د هغوئي حکومت به پۀ ټوله زمکه باندې وي- د مسلمانانو څلورم خليفه، حضرت عليُّ المُرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د (سکندر ذو القرنين رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْه پۀ باره کښې) فرمائي چې هغه نۀ نبي وو او نۀ فرښته بلکې د الله پاک سره محبت کوونکے بنده وو، الله پاک هغوئي محبوب جوړ کړو- (تفسير صراط الجنان، پ16، الکهف، تحت الآية: 83، 29/6)

پۀ 16 سيپاره، سورة الکهف، آيت نمبر: 83 او 84 کښې اِرشاد دے:

وَ یَسْــٴَـلُوْنَكَ عَنْ ذِی الْقَرْنَیْنِؕ قُلْ سَاَتْلُوْا عَلَیْكُمْ مِّنْهُ ذِكْرًاؕ(۸۳) اِنَّا مَكَّنَّا لَهٗ فِی الْاَرْضِ وَ اٰتَیْنٰهُ مِنْ كُلِّ شَیْءٍ سَبَبًاۙ(۸۴)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او تاسو نه د ذو القرنين پۀ باره کښې تپوس کوي- تۀ وفرمايه: نزدې ده چې زۀ به ستاسو پۀ وړاندې د هغۀ ذِکر بيان کړم- بے شکه مونږ هغۀ ته پۀ زمکه کښې اِقتدار ورکړو او هغۀ ته مو د هر څيز اسباب ورکړل-

پۀ تفسير خازِن کښې دي: بے شکه مونږ حضرت ذو القرنين رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْه ته پۀ زمکه کښې اِقتدار ورکړو او هغۀ ته مو هر قِسمه سامان يا د هغې د حاصلولو طريقه عطا کړه او د کوم څيز چې مخلوق ته حاجت وي او کوم څۀ چې بادشاهانو ته د ملک او ښار فتح کولو او د دښمنانو سره د جنګ کولو د پاره پکار وي هُغه هر څۀ مو ورکړه- (تفسير خازن، پ16، الکهف، تحت الآية: 84، 3/223)

پۀ قرآنِ کريم کښې د هغوئي د مشرق نه تر مغربه پورې د ټولې دُنيا د سفر بيان دے د سورة الکهف آيت نمبر 83 نه تر 99 پورې ولولئ او ايمان تازه کړئ-

کوم رَبِّ کريم چې حضرت ذو القرنين رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْه ته د ظاهري دُنيا بادشاهت عطا کولے شي هم هُغه رَبّ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمت اوليائے کرامو

ته د خلقو پۀ زړونو باندې حکومت هم عطا کولے شي- وګورئ! نن به د پاکستان او هندوستان سره سره د دُنیا پۀ مختلفو ملکونو کښې داسې ډیر مزارونه مبارک تاسو وینئ چرته چې به د الله پاک مخلوق ډیر پۀ شوق او ذوق سره راځي او د الله پاک پۀ رحمت سره به د زړۀ مرادونه حاصلوي- د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیِّیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د ملکۀ بلقیس تخت راوړلو والا " وَلِيُّ الله"

د الله پاک د خوږ نبي حضرت سلیمان عَلَیْہِ السَّلَام د وزیر نوم حضرت آصِف بن بَرخِیَا رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ دے- د 19 سیپارې پۀ سورۀ نمل، آیت نمبر: 40 کښې اِرشاد دے: ﴿ قَالَ الَّذِیْ عِنْدَهٗ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتٰبِ اَنَا اٰتِیْكَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ یَّرْتَدَّ اِلَیْكَ طَرْفُكَ ؕ ﴾

ترجمۀ کنزُالعِرفان: هُغه ګس عرض وکړو چا سره چې د کتاب عِلم وو چې زۀ به هغه ستاسو پۀ خِدمت کښې ستاسو د سترګې رپولو نه مخکښې حاضر کړم-

د تفسیر پۀ ډیرو کتابونو کښې لیکلے شوي دي چې د چا سره چې د کتاب عِلم وو د دې نه مُراد حضرت آصف بن برخیا رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ دے-

(تفسیر قرطبی، پ19، النمل، تحت الآیة:40، 156/7)

چې د حضرت سلیمان عَلَیْہِ السَّلَام د زماني وَلي پۀ زرګونو میله فاصلې نه تخت راوړے شي نو د مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُمت ولي، حضور داتا علي هجویري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ غیر مسلم ته د اِسلام طاقت ښودلو او د ولي الله پۀ شان باندې د پوهه کولو د پاره د سترګو پۀ رَپ کښې د برطانیې نه د هغۀ پۀ کپ کښې ګرم چائے ولې نشي راوړے؟ یقیناً چې راوړے یې شي، الله پاک خپلو اولیائے

کرامو ته داسې بے شميره طاقتونه عطا کړي دي- د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## حضرت لقمان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه

حضرت لقمان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه کوم چې خلق د حضرت لقمان حکيم پهٔ نوم باندې پيژني، دا هم د الله پاک نيک بنده او ولي الله دے، هغوئي حکيم (يعني ډاکټر) نهٔ وو بلکې ډيرې د عِلم او حکمت نه ډَکې خبرې به يـې فرمائيلې ځکه هغوئي ته " حکيم" وئيلے کيدلو- پهٔ قرآنِ کريم کښې يو سورت د هغوئي پهٔ نوم مبارک باندې دے، نو پهٔ 21 سيپاره، سورۀ لقمان، آيت نمبر: 12 کښې اِرشاد دے:

﴿ وَ لَقَدْ اٰتَيْنَا لُقْمٰنَ الْحِكْمَةَ اَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ ﴾ ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او بے شکه مونږه لقمان ته حکمت عطا کړو چې د الله شُکر ادا کړه-

حضرت لقمانِ حکيم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د حضرت ايوب عَلَيْهِ السَّلَام خوريے وو، د هغوئي عمر 1000 کاله وو- د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام نه مخکښې هغوئي د " بني اسرائيلو" مفتي وو، کله چې حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام ته نبوت عطا کړے شو نو هغوئي فتوې ورکول پريښودل، حضرت لقمان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د 4000 انبيائے کرامو عليهم السَّلام پهٔ خِدمت کښې حاضري وکړه- (عجائب القرآن، ص358)

تقريباً درې سوه کاله مخکښې تير شوي بزرګ حضرت علامه محمد اسماعيل حقي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي: د حضرت لقمان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه قبر مبارک پهٔ " رمله" کښې دے او پهٔ دغه ځائے کښې 70 انبيائے کرام عليهم السَّلام هم ارام فرمائي- د هغوئي پهٔ قبر باندې يوه اوچته نخښه ده او خلق د دغه قبر د زيارت د پاره د لرې لرې نه راځي- (تفسير روح البيان، پ21، لقمان: تحت الآية:12، 7/77)

اے د اولیائے کرامو رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْهم عاشقانو! د حضرت لقمانِ حکیم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د مزار مبارک د جوړیدو پۀ زرګونو کلونه وشول د صدو نه خلق د لرې لرې نه د مزار شریف د زیارت د پاره راځي، د دې نه معلومیږي چې د اولیائے کرامو رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْهم د مزارونو د پاره د سفر کولو نه هيڅ منع نشته، که د مولانا روم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ یا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمت د ھٰغه بزرګانِ دِین د کومو د عِلم او حکمت نه د ډکو خبرو مثالونه چې د صدو نه بیانولے کیږي، د هغوئي د مزار شریف د زیارت د پاره څوک ځي نو هغه ته ولې ردې بدې وئیلے کیږي؟ د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## حضرت طالوت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ

د قرآنِ کریم د ټولو نه لوئي سورت "سورۃُ البقره" دے پۀ دې کښې د یو وَلِيُّ الله حضرت طالوت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ذِکرِ خیر دے۔ پۀ اصل کښې به د بني اسرائیلو نظام داسې چلیدو چې همیشه به پۀ دې خلقو کښې یو بادشاه وو، کوم چې به د ملک نظام چلولو او یو به نبي وو کوم چې به د شریعت د نظام او د دِیني معاملو رهنمائي فرمائیله۔ د الله پاک د نبي حضرت شمویل عَلَيْهِ السَّلَام پۀ زمانه کښې هيڅ بادشاه نۀ وو نو بني اسرائیلو هغوئي ته خواست وکړو چې تاسو څوک زمونږ بادشاه جوړ کړئ نو هغوئي د الله پاک د حکم مطابق حضرت طالوت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ بادشاه جوړ کړو کوم چې پۀ بني اسرائیلو کښې د ټولو نه زیات طاقتور او د ټولو نه لوئي عالِم وو۔

پۀ دویمه سیپاره، سورۃُ البقره، آیت نمبر: 247 کښې اِرشاد دے:

وَ قَالَ لَهُمْ نَبِیُّهُمْ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوْتَ مَلِكًا ؕ قَالُوْۤا اَنّٰى یَكُوْنُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَیْنَا وَ نَحْنُ اَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَ لَمْ یُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ؕ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىهُ عَلَیْكُمْ وَ زَادَهٗ بَسْطَةً فِی الْعِلْمِ وَ الْجِسْمِ ؕ وَ اللّٰهُ یُؤْتِیْ مُلْكَهٗ مَنْ یَّشَآءُ ؕ وَ اللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِیْمٌ (۲۴۷)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: او هغوئي ته د هغوئي نبي وفرمائیل: بے شکه الله طالوت ستاسو بادشاه مقرر کړے دے- هغوئي ووئیل: دۀ ته پۀ مونږ باندې څنګه بادشاهي حاصله شوه حالانکې مونږ د دۀ نه زیات د بادشاهۍ مستحق یو او دۀ ته پۀ مال کښې هُم فراخي نۀ ده ورکړے شوې- هغه نبي وفرمائیل: دا الله پۀ تاسو باندې منتخب کړے دے او دۀ ته یې پۀ عِلم او بدن کښې فراخي زیاته ورکړې ده او الله چې چا له وغواړي خپل مُلک ورکوي، او الله فراخۍ والا، عِلم والا دے-

حضرت طالوت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه د حضرت داؤد عَلَیۡهِ السَّلَام پۀ رشته کښې سخر دے، لکه څنګه چې د دویمې سیپارې پۀ دې آیتونو کښې دي- کله چې حضرت داؤد عَلَیۡهِ السَّلَام جالوت (غیر مسلمه) له شکست ورکړو نو حضرت طالوت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه د هغوئي سره د خپلې لور نکاح وکړه او د خپل نیم سلطنت یې هغوئي سلطان جوړ کړو- (تفسیر جمل، پ2، البقرة، تحت الآیة:251، 308/1)

د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

اے د اولیائے کرامو رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡهِم عاشقانو! الله پاک چې څۀ غواړي کولے یې شي، چې د هغۀ پۀ غوښتلو د بني اسرائیلو یو نیک کَس ته د ټول ملک بادشاهي عطا کیدے شي

نو که هغه د خپل خوږ او اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمت څوک مقبول او نیک بنده حضرت صلاح الدین ایوبي یا حضرت نور الدین زنګي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِما ته د دُنیا د حکومت سره سره پۀ کافرانو باندې د داسې رُعب او دبدبې دولت عطا کړي چې کافران د هغوئي د نوم نه هم ویریږي نو دا څۀ د حیرانتیا خبره خو نۀ ده۔

## حضرت عِمران رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه

د حضرت عیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام نیکه بابا جان او د حضرت بي بي مریم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها د والدِ محترم نوم حضرت عمران رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه دے، د هغوئي د بي بي محترمې نوم حضرت حَنَّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها دے کومه چې د حضرت مریم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها موربي بي ده۔ دا د نیکانو خلقو کورنۍ وه او دا ټول حضرات د اللّٰه پاک مقبول بندګان وو۔ د قرآنِ کریم د دویم لوئي سورت نوم د حضرت عمران رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پۀ نوم مبارک باندې "الِ عمرٰن" دے۔

تر ډیرې مودې پورې د حضرت حَنَّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها اولاد نۀ وو تر دې پورې چې بوډۍ والي ته ورسیدله او مایوسه شوه، حضرت حَنَّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها یوه ورځ د یوې وَنې پۀ سورې کښې یوه مرغۍ ولیدله کومې چې خپل بچي له دانه ورکوله۔ پۀ دې لیدلو د حضرت حَنَّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها پۀ زړۀ کښې د اولاد شوق پیدا شو او د اللّٰه پاک پۀ بارګاه کښې یــې دُعا وکړه چې یا رَبه! که تا ما له بچے راکړو نو هغه به د "بَیتُ المُقَدَّس" خادِم جوړووم۔ نو چې کله هغه حامِله شوه او هغې دا منښته وکړه نو د هغې خاؤند حضرت عمران رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه وفرمائیل: دا تاسو څۀ وکړۀ؟ که جینۍ پیدا شوه نو هغه به د دې قابله چرته وي چې د بیت المُقدس خدمت وکړي ځکه چې د بیتُ المُقدس د خدمت د پاره هلکان اخستے کیږي۔ د کامِل وَلي د خُلې نه وتلې خبره پوره شوه او واقعي چې د حضرت حَنَّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها کره حضرت مریم

رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْھا دُنيا ته تشريف راوړلو خو حضرت عمران رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې دُنيا ته د تشريف راوړلو نه مخکښې وفات شو- (تفسیر خازن، پ3، اٰل عمرٰن، تحت الآیة: 35، 1/244)

د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

پهٔ قرآنِ کريم کښې د دې دواړو بزرګانو ذِکر څهٔ داسې راغلے دے:

اِذْ قَالَتِ امْرَاَتُ عِمْرٰنَ رَبِّ اِنِّیْ نَذَرْتُ لَكَ مَا فِیْ بَطْنِیْ مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّیْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿۳۵﴾ (پ3، سورۂ اٰل عمرٰن: 35)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: (ياد کړه) چې کله د عمران ښځې عرض وکړو: اے زما رَبه! زهٔ ستا د پاره منښته کووم چې زما پهٔ خيټه کښې چې کوم اولاد دے هغه خاص ستا د پاره ازاد (وقف) دے نو زما نه يې قبول کړې بے شکه هُم تهٔ اوريدونکے او عِلم والا يې-

چې د حضرت عمران رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ نيک سيرته بي بي حضرت حَنَّه رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْھا د نيک کار پهٔ باره کښې منښته وکړه او اللّٰه پاک د هغې دُعا قبوله کړه نو د اللّٰه پاک د خوږ او اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُمت يو ډير لوئي وَلِيُّ اللّٰه حضرت خواجه غريب نواز معين الدين حسن چشتي اجميري رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ پهٔ مزار مبارک کښې که يو مسلمان د نيک جائز ارمان د پوره کيدو منښته وکړي نو اللّٰه پاک به د خپل خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُمتي دُعا د خپل مقبول بنده او ولي پهٔ وسيله ولې نهٔ قبلوي؟

## حضرت زليخا رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْھا

حضرت زليخا رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْھا پهٔ حضرت يوسف عَلَیْہِ السَّلَام باندې د ايمان راوړلو نه پس د هغوئي پهٔ نکاح کښې راغلې وه- هٰغه وخت هغه ضعيفه شوې وه، اللّٰه پاک

د حضرت یوسف عَلَیْہِ السَّلَام د دُعا په برکت هغې ته د هغې ځواني واپس کړه- (المستطرف، 194/1) حضرت زلیخا رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہا به شپه او ورځ عبادت کولو او د دې نه علاوه د هغې هیڅ کار نۀ وو، حضرت یوسف عَلَیْہِ السَّلَام چې د هغې توجه خپل طرف ته اونۀ موندله نو اوئې فرمائیل: زلیخا! تۀ خو زما په محبت کښې لیونۍ وې! جواب یې ورکړو: دا د هغه وخت خبره ده کله چې زۀ ستاسو د محبت د حقیقت نه خبر نۀ ووم، اوس ما ستاسو د محبت حقیقت پیژندلے دے- (مکاشفة القلوب، ص32) الله پاک حضرت یوسف عَلَیْہِ السَّلَام ته د حضرت زلیخا رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہا نه دوه ځامن عطا کړل- د یو نوم اِفراثیم او د بَل نوم مِیشا وو- (تفسیر صراط الجنان، پ13، یوسف، تحت الآیة:56، 19/5)

په 12 سیپاره، سورۀ یوسف، آیت نمبر 51 کښې د حضرت زلیخا رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ذِکر څۀ داسې شوے دے:

قَالَتِ امْرَاَتُ الْعَزِیْزِ الْـٰٔنَ حَصْحَصَ الْحَقُّ٘ اَنَا رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ وَ اِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِیْنَ(۵۱)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د عزیز ښځې ووئیل: اوس اصل خبره ښکاره شوه- هُم ما د هغوئي زړۀ مائله کول غوښتي وو او بے شکه هغوئي رښتینے دے-

یاد ساتئ چې په دې آیت مبارک کښې د حضرت زلیخا رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہا د توبې اِعلان الله پاک فرمائیلے دے لهذا اوس حضرت زلیخا رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہا په خرابو الفاظو سره یادول حرام دي ځکه چې هغه د حضرت یوسف عَلَیْہِ السَّلَام مقدسه بي بي وه- (تفسیر صراط الجنان، پ12، یوسف، تحت الآیة:51، 575/4)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

اے د اولیائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم عاشقانو! چې اللّٰه پاک حضرت زلیخا رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہا ته د توبې نه پس دومره عظیمه مرتبه عطا کولے شي نو د حضرت یوسف عَلَیۡہِ السَّلَام د آقا مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ اُمت کښې توبه کوونکو ته څنګه د ولایت تاج نشي عطا کولے؟

## د حضرت موسیٰ علَیہِ السَّلام د زمانې پۀ زړګونو اولیائے کرام

د اللّٰه پاک پۀ حکم باندې حضرت موسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام چې کله فرعون ته د ایمان راوړلو دعوت ورکړو نو هغه بد بخته کوم چې ځان ته خُدائے وئیلو څۀ نخښه وغوښتله، حضرت موسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام ورته خپله اَمسا مبارکه وښودله کومه چې ډیره غټه اژدها جوړه شوه او د فرعون د خوړلو د پاره ورغوټه شوه نو فرعون معافیانې غوښتل شروع کړې بیا فرعون ووئیل چې مَعَاذَاللّٰه! دا جادو دے که تۀ زما جادوګرو له شکست ورکړې نو زۀ به ایمان راوړم نو حضرت موسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام د فرعون پۀ ټاکلے شوي وخت یو میدان ته تشریف راوړلو چرته چې پۀ زرګونو جادوګرو خپل کرتب ښودلو او د هغوئي د تماشې د پاره پۀ لکونو خلق راجمع شوي وو-

جادوګرانو چې خپلې کونتې او رسۍ وغورځولې نو یو دم د هغې نه پۀ جادو باندې ماران جوړ شول او پۀ ټول میدان کښې یې منډې کړې خو کله چې حضرت موسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام د خُدائے پۀ حکم باندې خپله مقدسه اَمسا پۀ زمکه باندې کیښودله نو د هغې نه ډیره غټه اژدها جوړه شوه او د جادوګرو ټول ماران یې وخوړل- کله چې حضرت موسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام هغه پۀ خپل مبارک لاس کښې راواخسته نو د مخکښې پۀ شان اَمسا ترینه جوړه شوه- پۀ دې لیدلو د جادوګرو یقین شو چې دا معجزه ده د کومې سره چې جادو مقابله نشي کولے پۀ دې معجزې لیدلو ټولو جادوګرو شکست وخوړو او سر پۀ سجده شول او پۀ تیز اواز

یـې ووئیل: مونږ ټولو د حضرت هارون او حضرت موسیٰ عَلَیْہِمَاالسَّلَام پۀ رَبّ باندې ایمان راوړو، بد بخته فرعون د توبې کولو پۀ ځائے هُغه ټول ایمانداران کوم چې پۀ یو ساعت کښې مؤمِنان شوي وو نو پۀ بَل ساعت د نبي پۀ نظر سره د ولات مقام ته ورسیدل هغوئي یې ډیر پۀ بے رحمئ سره شهیدان کړل-

الله پاک د هغوئي واقعه د قرآنِ کریم پۀ شپاړسمه سیپاره، سورۀ طٰهٰ کښې داسې اِرشاد فرمائي:

قَالُوْا يٰمُوْسٰۤى اِمَّاۤ اَنْ تُلْقِيَ وَ اِمَّاۤ اَنْ نَّكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَلْقٰى (٦٥) قَالَ بَلْ
اَلْقُوْاۚ فَاِذَا حِبَالُهُمْ وَ عِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ اِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰى (٦٦)
فَاَوْجَسَ فِيْ نَفْسِهٖ خِيْفَةً مُّوْسٰى (٦٧) قُلْنَا لَا تَخَفْ اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعْلٰى (٦٨)
وَ اَلْقِ مَا فِيْ يَمِيْنِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوْاؕ اِنَّمَا صَنَعُوْا كَيْدُ سٰحِرٍؕ وَ لَا يُفْلِحُ
السّٰحِرُ حَيْثُ اَتٰى (٦٩) فَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوْۤا اٰمَنَّا بِرَبِّ هٰرُوْنَ وَ
مُوْسٰى (٧٠) قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْؕ اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِيْ عَلَّمَكُمُ
السِّحْرَۚ فَلَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَ اَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ وَّ لَاُصَلِّبَنَّكُمْ فِيْ جُذُوْعِ
النَّخْلِ٘ وَ لَتَعْلَمُنَّ اَيُّنَاۤ اَشَدُّ عَذَابًا وَّ اَبْقٰى (٧١) قَالُوْا لَنْ نُّؤْثِرَكَ عَلٰى مَا
جَآءَنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَ الَّذِيْ فَطَرَنَا فَاقْضِ مَاۤ اَنْتَ قَاضٍؕ اِنَّمَا تَقْضِيْ هٰذِهِ
الْحَيٰوةَ الدُّنْيَاؕ (٧٢) اِنَّاۤ اٰمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطٰيٰنَا وَ مَاۤ اَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ
مِنَ السِّحْرِؕ وَ اللّٰهُ خَيْرٌ وَّ اَبْقٰى (٧٣)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: هغوئي ووئیل: اے موسیٰ یا تۀ (اَمسا ښکته) واچوه یا یـې مونږه مخکښې اچوو- موسیٰ وفرمائیل: بلکې هُم تاسو یـې واچوئ نو ناڅاپه د هغوئي رسئ او کونتئ د هغوئي د جادو پۀ زور د موسیٰ پۀ خیال کښې داسې ښکاره شوې

لکه هغه چې منډې وهي- نو موسیٰ پۀ خپل زړۀ کښې ویره محسوس کړه- نو مونږه وفرمائیل: مۀ ویریږه بے شکه هُم تۀ غالِب یـې- او تۀ هم هغه ور واچوه څۀ چې ستا پۀ ښي لاس کښې دي هغه د هغوئي جوړ کړي څیزونه وخوري، بے شکه هغوئي چې څۀ جوړ کړي دي هغه خو صرف د جادوګرانو مکر او فریب دے، او جادوګر نۀ کامیابیږي چې چرته هُم راشي- نو ټول جادوګران پۀ سجده پرې باسلے شول، هغوئي ووئیل: مونږه د هارون او موسیٰ پۀ رَبّ ایمان راوړلو- فرعون ووئیل: آیا تاسو پۀ هغه ایمان راوړو د دې نه مخکښې چې زۀ تاسو ته اجازت درکړم، بے شکه هغه ستاسو مشر دے چې هغه تاسو ټولو ته جادو ښودلے دے نو زما دې قَسَم وي زۀ به ضرور ستاسو د یو طرف لاسونه او د بل طرف ښپې کټ کړم او تاسو ته به د کجورو پۀ تنو پانسي درکړم او ضرور تاسو به پوهه شئ چې پۀ مونږ کښې د چا عذاب زیات سخت او زیات باقي پاتې کیدونکے دے- هغوئي ووئیل: مونږه به پۀ هُغه روښانه دلیلونو تا ته هیڅکله ترجیح درنکړو کوم چې مونږ ته راغلي دي- زمونږ دې پۀ خپل پیدا کوونکي قَسَم وي! پس تۀ چې څۀ کوونکے یـې هغه وکړه- بے شکه تۀ خو به یـې د هُم دې دُنیا پۀ ژوند کښې کوې- بے شکه مونږه پۀ خپل رَبّ ایمان راوړلو د پاره د دې چې هغه زمونږه هُغه خطاګاني او هُغه جادو معاف کړي پۀ کوم کښې چې مونږه تا مجبوره کړي وو، او الله بهتر دے او د ټولو نه زیات باقي پاتې کیدونکے دے-

صحابي ابنِ صحابي حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُما فرمائي: هُغه ورځ (پۀ کومه کښې چې د حضرت موسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام او د جادوګرو مقابله وشوه) د عاشورې (یعني د لسم محرم ورځ) وه- (تفسیر خازن، پ16، طه، تحت الآیة:59، 257/3)

د حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام پهٔ معجزې ليدلو جادوګرو دومره پهٔ تيزۍ سره سجده وکړه چې هغوئي ته داسې محسوس شوه لکه چې هغوئي ونيولے شو او سجدې ته ښکته کړے شو، منقول دي چې پهٔ دغه سجده کښې هغوئي ته جنَّت او دوزخ وښودلے شول او هغوئي پهٔ جنَّت کښې خپل منزلونه وليدل-

(تفسیر مدارک، پ16، طه، تحت الآية:70، ص696)

## باريکه نکته

مفسرينِ کرام فرمائي: جادوګرو د ادب پهٔ وجه مقابله مخکښې شروع کول د حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام پهٔ رائے مبارکه باندې پريښودل او د دې پهٔ برکت اخر الله پاک د هغوئي د ايمان دولت نصيب کړو- (تفسیر خزائن العرفان، پ16، طه، تحت الآية:65، ص590) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

## حضرت بي بي آسيه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها

حضرت بي بي آسيه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها د فرعون کور وداني وه، هغه د انبيائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام پهٔ اولاد کښې وه، هغې به پهٔ غريبانانو او مسکينانو باندې رحم او کرم کولو- (تفسیر بغوی، پ20، القصص، تحت الآية:9، 375/3) کله چې د حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام پهٔ مقابله کښې جادوګر راغلل او پهٔ اخره کښې سر پهٔ سجده شول او ايمان يې راوړلو نو دا ټول منظر حضرت آسيه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها هم د خپل محل د چت نه ليدلو، د هغې پهٔ زړهٔ کښې د ايمان نُور وځليدو او هغې هم ايمان راوړلو، کله چې فرعون د دې خبرې نه خبر شو نو هُغه بد بخته پهٔ هغې باندې هُغه ظلم زور شروع کړو چې د انسان زړهٔ پرې لړزيږي، د ټولو نه وړومبے دې بد بخته بغير د تکليف ورکولو نه د ايمان نه د لرې کولو کوشش وکړو خو هغه کله منع کيدله، کله چې

فرعون پۀ دې کښې ناکامه شو نو مَعَاذَالله! د حضرت آسیه رَحْمَةُاللهِعَلَيْها پۀ لاسونو او ښپو مبارکو باندې يـې ميخونه ټک وهل، غرمو ته يـې مخ پۀ نمر څملوله او پۀ سينه باندې يـې ورته د جرندې پل کيښودو (چې دا خوزيدے هم نۀ شي)- خو حضرت آسیه رَحْمَةُاللهِعَلَيْها وفرمائيل: (اے د الله پاک دښمنه، ظالِم انسانه!) تۀ زما پۀ وجود باندې خو قادر کيدے شې خو زما زړۀ د رَبّ پۀ پناه کښې دے، که تۀ زما اندامونه کټ کړې نو بيا به هم زما عشق نور هم زياتيږي، حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام چې کله دا منظر وليدو نو حضرت آسیه رَحْمَةُاللهِعَلَيْها هغوئي ته عرض وکړو: زما رَبّ زما نه راضي دے که نۀ؟ حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل: اے آسيه! د اسمان فرښتے ستا انتظار کوي او الله ستا پۀ کارنامو باندې فخر فرمائي- سوال کوه! ستا هر ضرورت به پوره کيږي- حضرت آسیه رَحْمَةُاللهِعَلَيْها دُعا وکړه: (مکاشفة القلوب، ص35 ملخصاً) د کومې ذِکر چې پۀ قرآنِ کريم کښې څۀ داسې دے:

وَ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِیْنَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ ۘ اِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِیْ عِنْدَكَ بَیْتًا فِی الْجَنَّةِ وَ نَجِّنِیْ مِنْ فِرْعَوْنَ وَ عَمَلِهٖ وَ نَجِّنِیْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۱۱﴾

(پ28، سورۀ التحريم:11)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او الله د مسلمانانو د پاره د فرعون ښځه مثال جوړه کړه، چې کله هغې عرض وکړو: اے زما ربه! ما لره له خپله طرفه پۀ جنت کښې يو کور جوړ کړې او ما ته د فرعون او د هغه د عمل نه نجات راکړې او ما ته د ظالـمانو خلقو نه نجات راکړې-

فرعون د هغې د شهيد کولو فيصله کوي او خپلو نوکرانو ته وائي چې يو غټ ګټ راوړئ! که پۀ غټ ګټ ليدلو هم دا پۀ خپله خبره باندې قائمه اوسي نو غټ ګټ پۀ دې باندې راوغورځوئ او که رجوع کوي نو بيا زما کور وداني ده، غټ

ګټې راوړے شو، حضرت آسيه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡها د اسمان طرف ته وکتل نو هلته يـې پۀ جنَّت کښې د (سپينو لعلونو) کور وليدو، پۀ کومې چې د هغې حوصله نوره هم زياته شوه او پۀ دغه حالت کښې د هغې رُوح د تن نه جُدا شو، د دې نه پس غټې ګټې پۀ هغې باندې راوغورځولے شو او هغه پۀ داسې وجود باندې راوغورځيدو پۀ کوم کښې چې رُوح نۀ وو- (تفسير بغوی، پ28، التحريم، تحت الآية:11، 432/4، ملخصًا)

## د حضرت بي بي آسيه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡها د پاره ډير لوئي زيرے

د حضرت آسيه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡها يو ډير لوئي فضيلت دا دے چې هغه به پۀ جنَّت کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ نکاح کښې وي، روايت دے کله چې حضرت خديجه رَضِيَ اللهُ عَنۡها پۀ مرضِ وفات کښې وه نو د مدينے منورې سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې خوا له تشريف راوړلو او اوئې فرمائيل: تا ته معلومه ده چې الله پاک پۀ جنَّت کښې زما نکاح ستا سره، د مريم بنتِ عمران، د حضرت موسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام د خور کُلثوم [1] او د فرعون د بي بي آسيه سره کړې ده- (معجم کبير، 451/22، حديث:1100) د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## د حضرت عيسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام مور بي بي حضرت مريم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡها

د حضرت مريم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡها د دُنيا ته د تشريف راوړلو نه مخکښې د هغې والدِ محترم حضرت عمران رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡها د دُنيا نه تشريف وړے وو ځکه د هغې نوم د هغې مور بي بي کيښودو لکه څنګه چې پۀ قرآنِ کريم کښې دي: :

1... بعضې علمآئے کرامو د هغې نوم هم مريم ذِکر کړے دے۔ (تفسير صاوی، پ20، القصص، تحت الآية:11، ص1521)

﴿وَاِنِّیْ سَمَّیْتُهَا مَرْیَمَ﴾ (پ3، آلِ عمران:36) ترجمهٔ کنزُالعِرفان: ” او ما د دې ماشومې نوم مريم کيښودو۔“ دا د حضرت سليمان بن داؤد عَلَیْہِمَاالسَّلَام پۀ اولاد کښې ده۔ پۀ قرآنِ کريم کښې د هغې د کراماتو بيان هم دے (کوم چې به وړاندې پۀ قسط واره رساله کښې راځي) کوم کَس چې پۀ حضرت مريم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہَا باندې (مَعَاذَالله!) د زِنا تهمت ولګوي هٰغه کَس يقيني قطعي کافِر او مرتد دے چې داسې عقيده ساتل ښکاره د قرآني آيتونو خلاف دي۔

وَ مَرْیَمَ ابْنَتَ عِمْرٰنَ الَّتِیْۤ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِیْهِ مِنْ رُّوْحِنَا وَ صَدَّقَتْ بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا وَ كُتُبِهٖ وَ كَانَتْ مِنَ الْقٰنِتِیْنَ۠ (۱۲)
(پ28، سورۂ التحريم:12)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د عمران د لور مريم (يـې مثال جوړه کړه) چې هغې د خپلې پاکبازۍ د مقام حفاظت وکړو نو مونږه پکښې له خپله طرفه رُوح اوپوکلو او هغې د خپل رَبّ د خبرو او د هغه د کتابونو تصديق وکړو او هغه د فرمانبردارو نه وه۔

## د حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام مور بي بي او خور

د حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام مور بي بي ډيره نيکه زنانه وه، د هغې نوم مبارک ” يوحانذ“ وو او د والِد محترم نوم يـې عمران وو۔ (عجائب القرآن مع غرائب القرن، ص176)

فرعون يو ځل خوب وليدو چې د ” بيتُ المُقدس“ د طرف نه يو وور ووتو کوم چې ټول مِصر راګير کړو او ټول قبطيان يـې وسېزل خو بني اسرائيلو ته د وور نه هيڅ نقصان اونۀ رسيدو۔“ دا عجيبه خوب يـې چې وليدو نو فرعون پريشانه شو۔ هغه چې د نجوميانو نه تعبير معلوم کړو نو هغوئي ورته ووئيل چې ” پۀ بني اسرائيلو کښې به يو هلک پيدا کيږي کوم چې به ستا د بادشاهت د ختميدو سبب

جوړېږي-" پۀ دې اورېدو فرعون حکم وکړو چې پۀ بني اسرائيلو کښې چې کوم هلکان پیدا کیږي هغوئي دې ووژلے شي- دغه شان د فرعون پۀ حکم باندې 12 زره یا 70 زره هلکان ووژلے شو- (تفسیر خازن، پ1، البقرة، تحت الآیة:49، 52/1)

کله چې حضرت موسیٰ کلیمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام پیدا شو نو د هغوئي د دواړو سترګو د مینځ نه د نُور شعاګانې راښتلې- (تفسیر بغوی، پ20، القصص، تحت الاية: 7، 373/3) د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام مور بي بي یو څو ورځې حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام له پے ورکړل، پۀ دې موده کښې به نۀ حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ژړل، نۀ به یې د هغې پۀ غیږه کښې څۀ حرکت کولو او د هغې او د خور نه علاوه بل چا ته د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام دُنیا ته د تشریف راوړلو پته نۀ وه، کله چې هغې د فرعون د طرف نه ویره محسوس کړه نو حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام یې پۀ یو صندوق کښې کېښودو کوم چې خاص طور د دې مقصد د پاره جوړ کړے شوے وو، د شپې پۀ دریائے نیل کښې پرېښودے شو- (تفسیر خازن، پ20، القصص، تحت الآیة: 7، 423/3، تفسیر مدارک، پ20، القصص، تحت الآیة: 7، ص861، تفسیر جلالین، پ20، القصص، تحت الآیة: 7، ص326، ملتقطاً)

د الله پاک د دې نیکې بندې وَلیه ذِکر پۀ قرآنِ کریم کښې څۀ داسې دے:

وَ اَوْحَيْنَاۤ اِلٰۤى اُمِّ مُوْسٰۤى اَنْ اَرْضِعِيْهِ ۚ فَاِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَاَلْقِيْهِ فِى الْيَمِّ وَ لَا تَخَافِيْ وَ لَا تَحْزَنِيْ ۚ اِنَّا رَآدُّوْهُ اِلَيْكِ وَ جَاعِلُوْهُ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۷﴾ (پ20، سورۂ القصص: 7)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: او مونږه د موسیٰ مور ته اِلهام وفرمائیلو چې دۀ ته پے ورکوه بیا چې تۀ کله پۀ دۀ وېرېږې نو دے دریاب کښې واچوه او مۀ وېرېږه او غم مۀ کوه، بے شکه دے به مونږه تا ته بیرته راولو او دے به د رسولانو نه جوړ کړو-

پۀ سورةُ القصص کښې د دې آیتونو نه پس د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د خور "حضرت مریم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا" ذِکر هم پۀ قرآنِ کریم کښې موجود دے-


وَ قَالَتْ لِاُخْتِهٖ قُصِّیْهِ٘ فَبَصُرَتْ بِهٖ عَنْ جُنُبٍ وَّ هُمْ لَا یَشْعُرُوْنَ(۱۱) وَ حَرَّمْنَا عَلَیْهِ الْمَرَاضِعَ مِنْ قَبْلُ فَقَالَتْ هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰۤى اَهْلِ بَیْتٍ یَّكْفُلُوْنَهٗ لَكُمْ وَ هُمْ لَهٗ نٰصِحُوْنَ(۱۲) فَرَدَدْنٰهُ اِلٰۤى اُمِّهٖ كَیْ تَقَرَّ عَیْنُهَا وَ لَا تَحْزَنَ وَ لِتَعْلَمَ اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّ لٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ(۱۳) (پ20، القصص: 11، 12، 13)

**ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** او د هغه مور د هغه خور ته ووئيل: پۀ هغه پسې وروستو وروستو ځه نو خور يــې ورته د لرې نه کتل او هغوئي (فرعونيانو) ته خبر نۀ وو- او مونږه د مخکښې نه پۀ هغه باندې ټولې دائيانې حرامې کړې وې نو د موسیٰ خور ووئيل: آيا زۀ تاسو ته د داسې کور خلق وښايم کوم چې ستاسو د دې ماشوم ذمه واري واخلي او د دۀ ښيګړه غوښتونکي هم وي؟- نو مونږه هغه خپلې مور ته را وګرځولو د پاره د دې چې د مور سترګې يــې يخې وي او غم نۀ کوي او پوهه شي چې د اللّٰه وعده رښتيني ده خو اکثر خلق نۀ پوهيږي-

**اے د اوليائے کرامو** رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم **عاشقانو!** پۀ قرآنِ کريم کښې د مخکښينو اُمتونو تقريباً د 20 اوليائے کرامو او پۀ حضرت موسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام باندې د ايمان راوړونکو او د هغوئي د نظر پۀ فيضان باندې د ولايت درجې ته د رسيدونکو پۀ زرګونو اوليائے کرامو ذِکرِ خير شوے دے- اللّٰه پاک دې زمونږه د خپلو اوليائے کرامو رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم سره محبت او عقيدت نصيب کړي او د هغوئي د ادب او د احترام کولو توفيق دې راعطا کړي- مسلمانان عالمان د شروع نه د بزرګانِ دِين رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم نه فيض حاصلوي، د هغوئي پۀ ژوند مبارک کښې هغوئي ته حاضري کوي او د وفات شريف نه پس د هغوئي د مزارونو نه برکتونه حاصلوي، مونږ له هم د هغوئي پۀ نقشِ قدم باندې تلل او د بزرګانِ دِين رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم سره محبت او عقيدت ساتل پکار دي- مَعَاذَاللّٰه ثُمَّ مَعَاذَاللّٰه! د اوليائے کرامو رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم پۀ باره کښې پۀ ذِهن

کښې د بدګمانۍ یا غلط سوچ نه بچ اوسئ- خُدائے دې نۀ کړي که څوک مو زړۀ ته شیطاني وسوسه در واچوي نو فوراً د اهلسُنَّت علمائے کرامو یا دارُ الافتا اهلِ سُنَّت ته حاضر شئ او د خپلو وسوسو علاج وکړئ- د اولیائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم سره بده عقیده پۀ ورو ورو د نیکو او د بزرګانو د بے ادبۍ طرف ته بوتلل کوي کوم چې د مسلمان د دِین د پاره زهر دي- د اولیائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم پۀ باره کښې د غلطو خبرو کوونکو د سوري نه هم ځان ساتئ ګنې پۀ هغه باندې پۀ وریدونکي سپیرۀ والي تاسو هم ګنده کیدے شئ- اللّٰه پاک چې د چا شان بیان کړي، اللّٰه پاک چې د چا مرتبې پۀ عامو خلقو باندې زیاتې کړي مونږ پۀ هغوئي باندې پۀ تنقید کولو خپله لمنه داغي کولے شو د هٰغه بزرګانِ دِین رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم هیڅ نشو کولے- دا د اللّٰه پاک ډیرې نیکانې هستیانې وي پۀ کومو چې هر وخت د اللّٰه پاک رحمتونه راوریږي، مونږ له هم پکار دي چې د دوئي نه فیض حاصل کړو- د حضرت مولانا روم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د شعرونو پۀ رڼا کښې مولانا عبد الـمصطفٰے اعظمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ لیکلي دي: اولیائے کرام (رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم) د عامو اِنسانانو پۀ شان ګڼل نۀ دي پکار بلکې پۀ دې عقیدې ساتلو د اولیائے کرامو تعظیم او تکریم کول پکار دي چې پۀ دې خلقو باندې د اللّٰه پاک خاص فضلِ عظیم دے او دا خلق د بے حده روحاني طاقتونو بادشاهان بلکې شهنشاهان دي- دا خلق د اللّٰه پاک پۀ حکم سره لوئي لوئي بلاګانې او مصیبتونه لرې کولے شي او د دوئي د قبرونو هم ادب کول لازمي دي چې د اولیائے کرامو پۀ قبرونو باندې د اللّٰه پاک د فیض او برکتونو بارانونه راوریږي او څوک چې پۀ عقیدت او محبت سره د دوئي د قبرونو زیارت کوي هغوئي ضرور د دې بزرګانو د فیض او برکتونو نه فیض حاصلوي- (عجائب القرآن مع غرائب القرآن، ص192)

## د راروانې هفتې رساله




فيضان مدينه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچي.
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net